پهٔ 24 ستمبر، کال 2026ء (بمطابق: 12 ربیع الآخر، کال 1448ھ) د پاکستان پهٔ هفته

وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# مُشکل کُشا غوثِ اعظم رَحمۃُاللہِ عَلَیْہ

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ۔۔۔ قِسمت يـې بدل شو---!!
- ۔۔۔اولیائے کرام مددګاران دي
- ۔۔۔ اخر د اولیاؤ نه مدد ولې اوغواړو؟
- ۔۔۔ د یولسمې شریف برکتونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د اَربعینِ عطّار، قسط: 2، صفحه: 2، حدیثِ پاک نمبر: 2 دے:**

صَلُّوۡا عَلَیَّ وَاجۡتَهِدُوۡا فِی الدُّعَآءِ، وَقُوۡلُوۡا: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ

**ترجمه:** په ما باندې دُرُودِ پاک رالیږئ او په دُعا کښې بنه ډېر کوشش کوئ او وایئ:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ۔(1)

یاد کرکے شہِ دوعالم کو
پڑھئے باچشم نم درود و سلام
وہ دعا مستجاب ہوتی ہے
جس میں ہوتا ہے ضَم درود و سلام
مشکلوں کے سبھی اندھیروں میں
ہے ضیاءِ کرم درود و سلام

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې حدیثِ پاک کښې د درودِ پاک د لوستو او په دُعا کښې د بنه ډېر کوشش کولو حُکم شوے دے، د دې نه اندازه کیږي چې د دُعا او د درود په

1…نسائی، کتاب السهو، نوع الآخر، صفحه: 221، حدیث: 1289۔

خپل مينځ کښې ښه مضبوط تعلق دے، **د حضرت عمر فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ **فرمان مبارک دے:** دُعا د زمکې او اسمان ترمينځه زوړنده وي، کله چې درودِ پاک ولوستلے شي نو بره پرواز[الوتل] شروع کړي-[1]

**علمائے کرام فرمائي:** د دُعا مثال د يوې مرغۍ په شان دے او درود د هغې شَه پر (يعنې د ټولو نه مضبوط وزر) دے، د دې په ذريعه دُعا د اسمانونو طرف ته پرواز[الوتل] کوي[2] او د الله پاک دربار ته رسيږي او قبليږي- ځکه مونږ له پکار دي چې ډيرې دُعاګانې هم کوو ولې چې **دُعا يځپله عبادت بلکې د عبادت مغز دے**[3] او د هرې دُعا په اول او په اخر کښې درودِ پاک هم لازمي لولو ولې چې دا بهترينه وظيفه ده، د دې په برکت سره به اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! دُعاګانې قبليږي-

گر آرزوئے قبولِ دعا ہوا ے لوگو!
بروزِ جمعہ پڑھو تم درود ہر اوقات

دعا کے ساتھ نہ ہووے اگر درود شریف
نہ ہووے حشر تلک بھی بر آورِ حاجات

قبولیت ہے دعا کو درود کے باعث
یہ ہے درود کہ ثابت کرامت و برکات[4]

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے-[5]

1…ترمذی، ابواب الوتر، باب ما جاء فی فضل الصلاۃ علی النبی صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:145، حدیث:486۔

2…فضائلِ دعا، صفحه:69 مفصلاً۔

3…ترمذی، کتاب الدعوات، صفحه:777، حدیث:3371 خلاصةً۔

4…کافی کی نعت، صفحه:41۔

5…بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِیّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د اللہ پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښېنم ❀ ښه پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## قِسمت یې بدل شو---!!

یو بزرګ وو: شیخ طاهِر بندګي لاهوري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ- د حُضُور مُجَدِّد اَلف ثاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ دوه شهزادګانو به د هغوئي سره سبق وئیلو- یو ځل داسې وشول چې حُضُور مُجَدِّد اَلف ثَاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د کشف پۀ حالت کښې (لوحِ محفوظ ته نظر اوکړو او) وه یې لیدل چې شیخ طاهِر بندګي لاهوري شَقِي دے (یعنې د هغوئي خاتِمه به ښه نۀ وي)- مُجَدِّد اَلف ثَاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ دا خبره خپلو ځامنو ته اوکړه- بیا چې کله دواړه ځامن د اُستاذ صاحب پۀ خِدمت کښې حاضر شول نو پۀ مخ باندې یې د پریشانۍ نخښې وې- اُستاذ صاحِب تری‌نه پوښتنه اوکړه: بچو! څۀ خبره ده؟ شهزادګانو رښتیا خبره اوکړه چې بابا جان ته کشف وشو، هغوئي ووئیل چې ستاسو اَنجام به ښه نۀ وي-

بیا دا شیخ طاهِر بندګي لاهوري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ چې کوم وو، که څۀ تکبر کوونکے وے نو اُلټا به یې فتوې لګول شروع کړي وو، مَعَاذَالله! مُجَدِّد اَلف ثَاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ته به یې ردې بدې وئیل شروع کړي وو خو دے د اولیائے کرام رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِم عاشق وو، د ولیانو سره عقیدت لرونکے وو- ورته معلومه وه چې مُجَدِّد اَلف ثَاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ رښتونے ولي دے، نو شهزادګانو ته یې ووئیل چې خپل والِد صاحب ته ووایئ چې زما پۀ حق کښې دُعا اوکړي،

کوم رَبِّ کائنات چې پۀ هغوئي باندې زما تقدير ظاهِر کړے، د هغوئي پۀ دُعا باندې هغه زما د تقدير پۀ بدلولو هم قُدرت لري۔

بيا شهزادګان کور ته راغلل، د والِد صاحب پۀ خِدمت کښې يـې عرض پيش کړو حُضُور مُجَدِّد اَلف ثاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُعا د پاره لاسونه پورته کړل، پۀ پوره توجه سره يـې دُعا اوکړه خو تقدير بدل نۀ شو۔ مُجَدِّد اَلف ثاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هٰغه وخت ما ته ناڅاپه راياد شول چې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائيلي دي: زما پۀ دُعا سره قضائے مبرم (يعنې کوم چې نۀ خو تقديرِ معلق دے او نۀ تقديرِ مبرم بلکې مشابه به مبرم تقدير) هم بدليږي۔ نو ما دُعا اوکړه: اے الله پاکه! زۀ ستا پۀ حُضُور کښې د غوثِ پاک شيخ عبد القادرِ جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وسيله پيش کووم، د شيخ طاهِر لاهوري بد بختي پۀ سعادت او خوش قِسمتۍ کښې بدله کړې۔ فرمائي: د دې وسيلې پۀ برکت الله پاک زما دُعا قبوله کړه او د شيخ طاهِر لاهوري بد بختي يـې پۀ خوش بختۍ کښې بدله کړه۔ (1)

اسيروں کے مشکل کشا غوث اعظم
فقيروں کے حاجت روا غوث اعظم
مريدوں کو خطره نهيں بحرِ غم سے
کہ بيڑے کے ہيں ناخدا (رکھوالے) غوث اعظم
قسم ہے کہ مشکل کو مشکل نہ پايا
کہا ہم نے جس وقت يا غوث اعظم (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وليانو سره د کېدلو قرآني حکم

خوږو او محترمو اِسلامي ورورنو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د وليانو د ملګرتيا موندلو، د هغوئي سره د نِسبت قائم ساتلو او د زړۀ نه د هغوئي سره د کېدلو ډېر برکتونه دي۔ الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې

1…جمالِ غوثيه، صفحه:30و31۔

2…ذوقِ نعت، صفحه:180 و 182 ملتقطًا۔

فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوۡنُوۡا مَعَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۱۱۹﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! د الله نه وېرېږئ او د رښتینو سره شئ۔

(پاره: 11، سورهٔ توبه: 119)

دلته الله پاک دوه حُکمونه راکړي دي: (1): اے اِیمان والؤ! تقویٰ اِختیار کړئ! (2): بیا یې وفرمائیل: د رښتینو سره شئ---!!

دلته ذِهن ته یوه پوښتنه راځي چې کله اِیمان هم حاصل شو، تقویٰ هم حاصله شوه، بیا د دې نه پس د رښتینو سره د کېدلو حُکم ولې راکړے کېږي؟ بنده اِیمان والا هم دے، نېک پرهېزګاره، تقویٰ دار هم دے، بیا هم د رښتینو سره د کېدلو ضرورت ولې دے؟

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د دې ډېر ښکلے جواب ورکړے دے، زهٔ تاسو د یو مثال پهٔ ذریعه پوهه کووم، دلته پهٔ عام توګه داسې کېږي، مونږ چې کله سفر کوو، شپه وي، پهٔ خوشې شاړ سړک باندې د تېرېدو پهٔ وخت وېره محسوسېږي، وِېره وي چې هسې نهٔ څوک ډاکو را نهٔ شي، پهٔ لار کښې مو څوک لوټ نهٔ کړي۔ پهٔ داسې حالت کښې چې دلته کوم پهٔ موټر سائیکل ناست خلق وي، هغوئې څهٔ کوي؟ لږ ایسار شي او اِنتظار کوي چې څهٔ ټرک، ټرېله وغیره غټ ګاډے راشي نو پهٔ هغه پسې شا ته روان شم، د هغه تسلي وي، وِېره ورسره نهٔ وي۔

مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: (یعنې دلته معامله هم دا ده) ❁ اِیمان مو هم قبول کړو ❁ نېک اعمال هم کوو ❁ نمونځونه هم کوو ❁ روژې هم نیسو ❁ زکوٰة هم ورکوو ❁ حجونه مو هم کړي دي ❁ تِلاوت هم کوو او ❁ نور هم نېک اَعمال کوو خو

یاد ساتئ چي لاره ډېره خطرناکه ده، په دې لاره کښي شیطان هم دے، د کوم چي دا دعویٰ ده چي ❀ زۀ به د مخې نه، شا نه، ښي، ګڅ اړخ نه حمله کووم ❀ اِیمان به درنه په زوره اخلم ❀ اَعمال به هم بربادووم ❀ په دې لاره باندې د نفسِ اَمَّاره [یعني په ګناهونو باندې د راپارووونکي نفس] هم خطره ده او نورې هم ډېرې خطرې موجودې دي، ځکه الله پاک وفرمائیل:

وَ كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۱۱۹﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د رښتینو سره شئ۔

یعني اے زما د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامانو! د رښتینو سره شئ! ستاسو اِیمان او ستاسو اَعمال به په خیریت سره منزل ته ورسېږي۔ (1)

دِل پہ کُندہ ہو ترا نام کہ وہ دُزدِ رجیم
اُلٹے ہی پاؤں پھرے دیکھ کے طُغرا تیرا (2)

وضاحت: اے خوږه غوثِ پاکه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ! اے کاش چي ستاسو نوم مبارک زما په زړۀ باندې لیکلے شوے وي، د پاره د دې چي شیطان لعین کوم چي د رَبِّ کریم د دربار نه رټلے شوے راویستے شوے دے، ستاسو شاهي مُهر ویني او فوراً واپس لاړ شي، ستاسو په برکت به د شیطان د شر نه محفوظ اوسم۔

## د اِیمان د ټولو نه مضبوطه رسی

صحابئ رسول حضرت بَراء بن عازِب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ په دربار رسالت کښي ناست وو، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: اَیُّ عُرَی الْاِسْلَامِ اَوْثَقُ د اِسلام د ټولو نه مضبوطه

---

1…تفسیر نعیمی، پارہ:11، سورۂ توبہ، زیرِ آیت:119، جلد:11، صفحہ:115 مفصلًا۔

2…حدائقِ بخشش، صفحہ:31۔

رسي کومه ده؟ صحابۀ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: نـمونځ- وه يـې فرمائيل: نـمونځ ډېر ښه دے خو زما د سوال جواب دا نۀ دے- بيا يـې عرض اوکړو: زکوٰة ورکول- وه يـې فرمائيل: دا عمل هم ډېر ښه دے خو زما د سوال جواب دا نۀ دے- بيا يـې عرض اوکړو: د رمضان روژې- وه يـې فرمائيل: روژې هم ډېر ښه عبادت دے خو دا هم زما د سوال جواب نۀ دے- بيا يـې عرض اوکړو: حج، وه يـې فرمائيل: دا هم ډېر ښه عمل دے خو زما د سوال جواب دا نۀ دے- صحابۀ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: د الله پاک پۀ لار کښې جنګ- وه يـې فرمائيل: دا هم ډېر ښه عبادت دے خو زما د سوال جواب څۀ بل دے- بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم پخپله جواب ورکړو او وه يـې فرمائيل: بے شکه **د اِيمان د ټولو نه مضبوطه رسۍ دا ده چې تاسو د الله پاک د رضا د پاره (د هغه د بندګانو مثلاً د اولياۓ کرامو سره) محبت کوئ!** (1)

معلومه شوه چې ❀ د الله پاک د محبوب بندګانو محبت ❀ د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم محبت ❀ د اهلِ بيتِ پاک عَلَیھِمُ الرِّضْوَان محبت ❀ د اولياۓ کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْھِم محبت ❀ د غوث او د خواجه، داتا او رضا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْھِم محبت د اِيمان ډېره مضبوطه رسۍ ده، تر څو پورې چې دا رسۍ زمونږ پۀ لاس کښې وي، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د اِيمان د حفاظت ذريعه به راسره وي-

اميرِ اهلِسُنَّت، ابو بلال مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه د غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ دربار کښې عرض کوي:

راستہ پُر خار، منزل دُور، بَن سُنسان ہے
المدد! اے رہنما! یا غوثِ اعظم دست گیر!

اب سرہانے آؤ! مرشد اور مجھے کلمہ پڑھاؤ
دم لبوں پر آ گیا یا غوثِ اعظم دست گیر! (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...مسند امام احمد، مسند الکوفيين، حديث براء بن عازب، جلد:7، صفحه:532، حديث:19027-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:548 549 ملتقطًا-

# اولیائے کرام مددګار دي

الله پاک فرمائي:

اِنَّمَا وَلِیُّكُمُ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوا الَّذِیْنَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ یُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ هُمْ رٰكِعُوْنَ﴿۵۵﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ستاسو دوستان صرف الله او د هغه رسول او ایمان والا دي کوم چې نـمونځ قائموي او زکوٰة ورکوي او د الله په حضور کښې ښکته شوي دي-

(پاره:6، سورۂ مَآئِدہ:55)

دا د 3 هستیانو ذِکر دے (1): الله پاک (2): د الله پاک خوږ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (3): نـمونځونه قائمونکي، زکوٰة ورکوونکي، رکوع کوونکي نېک سیرته، کامِل مسلمانان- یعني الله پاک هم ستاسو مددګار دے، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم مددګار دے او د الله پاک په عطا سره، د هغه په توفیق سره، د هغه په ورکړے شوي طاقت سره نېک سیرته کامِل مسلمانان هم ستاسو مددګار دي- د دوئي نه علاوه هیڅ یو کافِر، غیر مسلمه، مشرک، د الله پاک نافرمانه خپل دوست، محبوب او مددګار هیڅکله هم مهٔ جوړوئ!

معلومه شوه چې صرف الله پاک مددګار منل او د دې نه علاوه هر مدد شِرک او بدعت ګرځول، بالکل 100 فیصده غلطه خبره ده- الله پاک مونږ ته صفا صفا فرمائي چې الله پاک هم ستاسو مددګار دے، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم ستاسو مددګار دے او ټول متقیان مسلمانان هم ستاسو مددګار دي- لهذا چې کوم بنده په شیطاني وسوسو کښې راځي او د الله پاک د مقبولو بندګانو د مدد نه اِنکار کوي، هغه د دې آیت مبارک نه اِنکار کوي- الله پاک دې زمونږه سلامتي نصیب کړي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامان یو، د اولیائے کرامو رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہِم غلامان یو، مونږ د الله پاک نه هم مدد غواړو او رَبِّ کریم خپل محبوب بندګان هم زمونږ مددګار جوړ کړي دي، لهذا په قرآني تعلیماتو په

عمل کولو مونږ د هغه د محبوب بندګانو نه هم مدد غواړو- د دې مدد غوښتو برکتونه څهٔ دي؟ د الله پاک، د رسولِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د الله پاک د محبوب بندګانو خپل مددګار منلو برکتونه څهٔ دي؟ دا هم د قرآنِ کريم نه واورئ! ډېره ايمان تازه کوونکې خبره ده، پهٔ دې پسې پهٔ وريسې آيت کښې الله پاک فرمائي:

وَمَنۡ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا فَاِنَّ حِزۡبَ اللّٰهِ هُمُ الۡغٰلِبُوۡنَ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې الله او د هغه رسول او مسلمانان خپل دوستان جوړ کړي نو بې شکه صرف د الله ډله غالِبه ده-

(پاره:6، سورۂ مآئدہ:56)

يعني څوک چې د الله پاک سره محبت کوي، د رسولِ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت کوي، د نيک سيرته متقيانو مسلمانانو سره محبت کوي، الله پاک هم خپل مددګار مني، رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم خپل مددګار مني، د الله پاک محبوب بندګان هم خپل مددګار مني، داسې خوش قِسمته او د ښې عقيدې والا خلق د الله پاک ډله ده او د الله پاک ډله چرې هم نهٔ مغلوبه کېږي، هميشه غالبه وي-

دشمن اگرچہ گھات میں ہے کوئی غم نہیں
ان کی مدد رہے تو بگاڑ اپنا کیا سکے
عطّار تیرے حامی و ناصر ہیں مصطفےٰ
کس کی مجال ہے کہ جو تجھ کو دبا سکے (1)

## پېزار مبارک يې د ډاکوانو کار تمام کړو

شيخ ابو عَمرو او شيخ عبد الحق حَرِيمي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡهِما فرمائي: د 555 هجری خبره ده، پهٔ 3 صَفَر شريف د اتوار پهٔ ورځ مونږه د حُضُور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ مدرسه

1...وسائلِ بخشش، صفحه:412 ملتقطًا-

کښې حاضِر وو، هٔغه وخت حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لرګي چپړې واچولې او اودس يـې اوکړو، د اودس کولو نه پس هغوئي دوه رکعته نفل ادا کړل، د نـمونځ نه چې فارغ شو نو غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ تېز اواز څهٔ ووئيل او د لرګي يوه چپړه يـې پهٔ هوا کښې [بره] وويشتله، بيا هم دغه شان دويمه چپړه يـې هم وويشتله، دواړه چپړې زمونږه د سترګو نه پناه شوې- هغوئي بيا پهٔ خپل ځائے باندې کېناستل- پهٔ مونږ کښې چا هم د واقعې معلومولو جُرأت اونـکړے شو-

د 23 ورځو تېرېدو نه پس د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مدرسې ته يوه قافِله راغله، قافِلې والؤ ووئيل: مونږه د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خِدمت کښې نذرانه وړاندې کول غواړو- نو مونږه د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه اجازت وغوښتو- وه يـې فرمائيل: قافِلې والا دننه راپرېږدئ او څهٔ چې هغوئي درکړي هغه ترې واخلئ- مونږه قافِلې والا دننه راپرېښودل، هغوئي ډېر سامان د پيرانِ پير حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ بارګاه کښې نذرانه کړل، پهٔ هغې کښې د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لرګي نه جوړې مبارکې چپړې هم وې- د دې پهٔ ليدو مونږه حېران شو، مونږه د قافِلې والؤ نه پوښتنه اوکړه چې دا د لرګي چپړې تاسو ته د کوم ځائے نه مېلاؤ شوې؟ قافلې والؤ ووئيل: د 3 صَفَر شريف خبره ده، پهٔ مونږه باندې ډاکوانو حمله اوکړه، زمونږه ډېر کسان يـې ووژل او سامان يـې رانه هم واخِستلو- ډاکوانو زمونږه مال يو طرف ته يوړلو او پهٔ خپل مينځ کښې يـې تقسيمولو، پهٔ دغه وخت مونږه سوچ اوکړو چې [که چرې] حُضُور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږه مدد اوکړي او مونږه د دې مصيبت نه بچ شو نو د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خِدمت کښې به نذرانه وړاندې کوو-

اوس لا مونږ پهٔ خپل مينځ کښې دا خبرې کولې چې پهٔ ځنګل کښې مو دوه تېز اوازونه واورېدل، کوم چې پهٔ ټوله فضا کښې خوارهٔ شول، ډاکوان هم وېرېدل- بيا لږه شېبه پس يو ډاکو پهٔ وېرېدلې حالت کښې زمونږ خوا له راغلو: وه يـې وئيل! تاسو خپل مال واخلئ!

او وګورئ چې زمونږه څهٔ حال شوے دے؟ مونږه زر د ډاکوانو خوا له لاړو، وه مو کتل چې د هغوئي دواړه سرداران مړهٔ پراته دي او د هغوئي سره د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د لرګي دا مبارکې چپړې پرتې دي- بس مونږه د لرګي چپړې راواخستې، خپل مال مو راواخِستو او د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ خِدمت کښې د نذرانې وړاندې کولو د پاره حاضِر شو- (1)

اَسِیروں کے مُشکِل کُشا غوثِ اعظم! | فقیروں کے حاجت رَوا غوثِ اعظم!
گِھرا ہے بلاؤں میں بندہ تمہارا | مدد کے لئے آؤ یا غوثِ اعظم!
ترے ہاتھ میں ہاتھ مَیں نے دیا ہے | ترے ہاتھ ہے لاج یا غوثِ اعظم! (2)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! تاسو وکتل! کوم بنده چې الله پاک مددګار اومني، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل حامي او ناصِر اومني او د الله پاک نېکان بندګان مددګار اومني، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! هغوئي به پهٔ هر میدان کښې کامیاب او کامران وي، الله پاک او د هغه پهٔ عطا سره د هغه خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِعَلَيْهِم د هغه مدد فرمائي او د هر مشکل نه ورته خلاصے ورکوي-

کہا جس نے یَا غَوْث اَغِثْنِی تو دَم میں | ہر آئی مصیبت ٹلی غوثِ اعظم! (3)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د وِصال نه پس ترېنه مدد ولې وغواړو؟

د بعضې خلقو پهٔ زړهٔ کښې وسوسه راځي چې کوم اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِعَلَيْهِم ، نېکان خلق

---

1...بَهْجَةُ الْاَسْرَار، ذکر فصل من کلامه مرصعا بشئی من...الخ، صفحه:132 خلاصةً-

2...ذوقِ نعت، صفحه:180-

3...سامانِ بخشش، صفحه:119-

ژوندي دي، د هغوئي نه خو مدد غوښتل پکار دي خو کوم چې وفات شوي دي، اخر د هغوئي نه مدد څنګه غوښتلے کیدے شي؟ د دې وسوسې ساده شان جواب دے چې بے شکه اولیائے کرام رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡهِم د دُنیا نه پرده فرمائي، د هغوئي رُوح قبض کولے شي، په هغوئي باندې هم مرګ راځي خو د الله پاک په عطا سره، د هغه په فضل او کرم سره اولیائے کرام رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡهِم په خپلو مزارونو کښې ژوندي وي۔ الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَلَا تَقُوۡلُوۡا لِمَنۡ یُّقۡتَلُ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰہِ اَمۡوَاتٌ ؕ بَلۡ اَحۡیَآءٌ وَّلٰکِنۡ لَّا تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د الله په لاره کښې قتل کړے شي هغوئي ته مړهٔ مهٔ وایئ، بلکې هغوئي ژوندي دي خو تاسو د هغې شعور نهٔ لرئ۔

(پاره:2، سورهٔ بقره:154)

په دې آیت مبارک کښې صفا صفا وفرمائیلے شو چې کوم خلق د الله پاک په لاره کښې شهیدان شي، هغوئي ته مړهٔ مهٔ وایئ، هغوئي ژوندي دي خو تاسو د هغوئي د ژوند شعور نهٔ لرئ، اوس دا آیت مبارک په واضحه توګه د شهید ژوند ثابتوي خو پوښتنه دا ده چې شهید څوک دے؟ هغه کوم چې د غیر مسلمو سره په جنګ کولو کښې شهادت حاصل کړي؟ نا---!! صرف هغه نهٔ بلکې شهیدان نور هم ډیر دي۔ په **مسندِ اِمامِ احمد بن حنبل** کښې **حدیثِ پاک** دے، تاجدارِ کائنات، مکي مَدَني سردار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اِنَّ اَکۡثَرَ شُهَدَاءِ اُمَّتِیۡ لَاَصۡحَابُ الۡفُرُشِ یعنې زما د اُمت زیاتره شهیدان هغه دي، کومو له چې په بستره باندې مرګ راځي، وَرُبَّ قَتِیۡلٍ بَیۡنَ الصَّفَّیۡنِ اللّٰهُ اَعۡلَمُ بِنِیَّتِهٖ یعنې ګڼي څومره په جنګ کښې

مرۀ کېدونکي داسې دي چې د هغوئي نيت بس هُم الله پاک ته بهتر معلوم دے۔ (1) معلومه شوه چې شهيدان صرف هغه نه دي کوم چې په جنګ کښې شهادت حاصل کړي بلکې د اُمت زياتره شهيدان هغه دي کومو له چې فِیْ سَبِیْلِ اللہِ (يعني په نېکو کولو، د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اطاعت کښې) په بستره باندې مرګ راځي۔ تاسو پخپله غور اوکړئ! په حديثِ پاک کښې د خپل نفس سره جهاد کول (يعني د نفس تيک کول) جهادِ اَکبَر ګرځولے شوے دے۔ (2) خو څوک چې جهادِ اَصغَر اوکړي يعني د غير مسلمو سره جنګ اوکړي او شهيد شي هغه خو ژوندے دے، رَب فرمائي: هغه ته هيڅکله هم مړۀ مۀ وايئ! نو څوک چې جهادِ اَکبَر کولو والا دي، هغوئي به بيا ولې ژوندي نۀ وي---؟

يقيناً چې اوليائے کرام رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم په خپلو مزارونو کښې ژوندي دي او د الله پاک په عطا سره، د هغه په توفيق سره، د هغه په فضل او کرم سره زمونږ د غلامانو مدد هم فرمائي۔ ډاکټر اِقبال وائي:

موت کو سمجھے ہیں غافِل اختتامِ زندگی
ہے یہ شامِ زندگی، صبحِ دوامِ زندگی (3)

**وضاحت:** يعني هُغه غافله خلق کوم چې مرګ د ژوند ختمېدل ګڼي، مرګ په اصل کښې د دې دُنيائي ظاهري ژوند ماښام دے خو د هميشه ژوند د پاره يو نوے سحر وي، يعني د مرګ نه پس يو داسې ژوند شروع کېږي، د کوم نه پس چې به چرې هم مرګ نۀ وي۔

---

1... مسند امام احمد، مسند المکثرین، مسند عبد اللہ بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عنہ، جلد:2، صفحہ:530، حدیث:3845۔

2... الزہد الکبیر، فصل فی ترک الدنیا...الخ، صفحہ:165، رقم:373 ماخوذاً۔

3... مطالب کلام اقبال، ہمایوں، صفحہ:421۔

## یا شیخ عبد القادِر جیلاني! شَيئًالِلّٰه!

میاں شیر محمد شَرقپوري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه یو ولي کامِل تېر شوے دے- یوه ورځ یو ګس د هغوئي سره د ملاقات د پاره حاضر شو، دا راغلے ګس د اولیائے کرامو رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡهِم په باره کښې د وسوسو ښکار وو، کله چې دا د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو نو د هغوئي تقویٰ، پرهېزګاري، په سُنّتو باندې عمل وغیره چې یې ولیدو نو ډېر متاثر شو، بیا د هغه نظر ناڅاپه په دیوال پرېوتو، هلته لیکلي وو: یَا شَیۡخ عَبۡدُ الۡقَادِر جِیۡلَانِیۡ شَیۡئًا لِلّٰہ! یعنې اے شیخ عبد القادِر جیلاني رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه ! د الله پاک په وسیله ما ته څهٔ راعطا کړئ! دا یې چې ولیدل نو هغه غصه شو، هغهٔ د خفګان په انداز کښې د خپلو وسوسو اظهار شروع کړو- میاں شیر محمد شَرقپوري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه کامِل ولي وو او اولیائے کرام رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡهِم صاحبِ قَال نهٔ بلکې صاحبِ حال وي یعنې دوئي په وئیلو کم پوهه کول کوي، زیاتره په ښودلو سره پوهه کول کوي- هغوئي د هغه په قهرېدلې لهجه باندې د صبر او زغم نه کار واخستو، بیا چې کله هغه ګس تللو نو هغوئي هم د دروازې پورې د هغه سره لاړو، کله چې دروازې ته نزدې شو نو هغوئي په تېز اواز ووئیل: یَا شَیۡخ عَبۡدُ الۡقَادِر جِیۡلَانِیۡ شَیۡئًا لِلّٰہ! اے شیخ عبد القادِر جیلاني! د الله پاک په وسیله څهٔ راعطا کړئ! بس دومره وئیل وو چې یو ډېر ښائسته، ښکلے او صاحبِ جلال بزرګ ظاهر شو، د هغوئي جلال او رُعب او دبدبه چې یې ولیدله نو هغه بد مذهبه په رېږدو شو، د هغوئي د حُسن تاب یې را نهٔ وړے شو، میاں شیر محمد شَرقپوري رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه وفرمائیل: مولوي صاحبه! هم دا خو شیخ عبد القادِر جیلاني رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه دے، کوم ته چې مونږ د مدد د پاره اواز کوو، دا مړ نهٔ دے بلکې د الله پاک په عطا سره ژوندے دے، څکه مونږ دوئي ته اواز کوو- دا ټول منظر چې یې ولیدو نو د هغه ګس

وسوسي ختمي شوې او هغه توبه کړه او د ښې عقيدې والا، د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم عاشق جوړ شو- (1)

شَیۡئًا لِلّٰہِ یَا عَبۡدَالۡقَادِرِ یَا سَاکِنِ بَغۡدَادَ یَا شَیۡخَ الۡجِیۡلَانِیۡ

کرم چاہئے تیرا، تیرے خُدا کا
کرم غوثِ اعظم، کرم غوثِ اعظم

خدارا ذرا ہاتھ سینے پہ رکھ دو
ابھی مٹتے ہیں غم، اَلَم غوثِ اعظم

خبر لو ہماری کہ ہم ہیں تمہارے
کرو ہم پہ فضل و کرم غوثِ اعظم

کرم سے کیا رہنمار ہزنوں کو
ادھر بھی نگاہِ کرم غوثِ اعظم (2)

شَیۡئًا لِلّٰہِ یَا عَبۡدَالۡقَادِرِ یَا سَاکِنِ بَغۡدَادَ یَا شَیۡخَ الۡجِیۡلَانِیۡ

## اخر د ولیانو نه یې ولې وغواړو؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مونږ د قرآنِ کریم آیت واوریدو، په کوم کښې چې ووئیلے شو چې الله پاک هم مددګار دے، د هغه محبوب بندګان هم مددګار دي- په دې موقع باندې بعضې خلق دا پوښتنه کوي چې څه وه مونږ منلو چې اولیائے کرام رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم مددګار دي خو چې الله پاک پخپله زمونږ اوري هم، زمونږه مدد هم فرمائي، بیا اخر مونږ د بندګانو نه ولې مدد وغواړو؟ صرف د الله پاک نه مدد غواړې-

**ډېره اهمه پوښتنه ده،** ډېر د ښې عقيدې والا خلق هم د دې شیطاني وسوسې ښکار کیږي، د دې څۀ جواب دے؟ راځئ چې یو **حدیثِ پاک** واورو- **حدیثِ حَسَن** دے یعنې د سند په

---

1...خلیفة الله، صفحه:355 خلاصةً-

2...سامانِ بخشش، صفحه:127123 ملتقطًا-

لحاظ سره په دې حديث کښې کلام نشته، ډېرو محدثينو دا ذِکر کړے دے او ډېر لوئي لوئي علمائے کرامو او محدثينو ټولو هم په دې حديثِ پاک باندې تجربه کړې ده، حديث شريف څۀ دے؟ واورئ! بدري صحابي حضرت عُتبَه بِن غَزوَان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د الله پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې په تاسو کښې د چا نه څۀ څيز ورک شي او وي هم شاړ ځائے چرته چې څوک مددګار نۀ وي، په داسې حالت کښې که هغه مدد غواړي نو داسې دې ووائي: يَاعِبَادَاللهِ أَغِيثُونِي، يَاعِبَادَاللهِ أَغِيثُونِي اے د الله بندګانو! زما مدد اوکړئ! اے د الله بندګانو! زما مدد اوکړئ! (1)

اوس وګورئ چې دا تعليم څوک راکوي؟ ❀ زمونږه آقا، زمونږه هادي، زمونږه راهنما صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د دُنيا هُغه هستي کوم چې د ټولو نه لوئي توحيد پرست دے ❀ هُغه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې د ټولو نه زيات د الله پاک معرفت لرونکے دے ❀ هُغه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې د ټولو نه زيات د توحيد تبليغ کوونکے دے ❀ **هُغه هادي او راهنما صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ له تعليم راکوي چې که تاسو په داسې ځائے کښې يئ، چرته چې په ظاهره څوک مددګار په نظر نۀ راځي، په داسې ځائے کښې که چرې مدد غوښتل غواړئ نو چا ته اواز اوکړئ! د الله پاک بندګانو ته---!**

غور اوکړئ چې آيا محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته (مَعَاذَالله!) دا نۀ وه معلومه چې الله پاک مددګار دے نو د هغه نه دې مدد وغوښتلے شي، هُم هغوئي خو مونږ ته د الله پاک نه مدد غوښتل ښودلي دي، يعني کوم خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې مونږ ته د الله پاک

---

1...معجم کبير، ما اسند عتبة بن غزوان، جلد:7، صفحه:48، حديث:13737۔

نه مدد غوښتل ښودلي دي، هم هُغه خوږ محبوب صَلَّى اللّٰہُعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم مونږ له ترغيب راکوي چې د الله پاک د بندګانو نه مدد غوارئ! بندګان هم هُغه کوم چې پۀ ظاهره پۀ نظر نۀ راځي، د سترګو نه غائب دي، لهذا چې د چا پۀ تعليم باندې د الله پاک نه غوښتل کيږي نو هم د هغوئي پۀ ترغيب باندې مونږ د اوليائے کرامو رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِم نه هم مدد غوارو۔

## د وَليانو مدد هُم د الله پاک مدد دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته دا هم ياد ساتئ چې **د وَليانو مدد پۀ اصل کښې د غير الله مدد نۀ دے، دا هُم د الله پاک مدد دے کوم چې د وليانو پۀ ذريعه ميلاؤيږي۔** لکه ځنګه چې الله پاک رَزّاق دے، هم هغه رزق ورکوي خو هر يو ته د رزق رسولو ذريعې مختلفې دي ✿ چا ته د دُکان پۀ ذريعه ميلاؤيږي ✿ څوک نوکري کوي او رزق حاصلوي ✿ څوک خپل کاروبار کوي ✿ چا ته د سيټهه پۀ لاس ميلاؤيږي ✿ چا له يې حکومت ورکوي ✿ څوک يې د ګاهک نه وصولوي، رَزّاق خو صرف الله پاک دے، ورکوي يې هم هغه خو پۀ دې ذريعو سره يې عطا کوي، هم داسې مدد هُم د الله پاک مدد دے، هغه مدد فرمائي خو د هغه د مدد ذريعې مختلفې دي، چا ته د داتا حُضُور رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پۀ ذريعه د الله پاک مدد ميلاؤيږي، چا ته د خواجه اجمير رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پۀ ذريعه ميلاؤيږي او چا ته پۀ اَلمَدديا غوثِ پاك اواز کولو سره ميلاؤيږي۔ وګورئ چې د غزوۀ بدر پۀ موقع باندې الله پاک فرښتے د مدد پاره راوليږلې۔ الله پاک فرمائي:

اِذۡیُوۡحِیۡ رَبُّكَ اِلَی الۡمَلٰٓئِكَةِ اَنِّیۡ مَعَكُمۡ فَثَبِّتُوا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ؕ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ياد کړه اے حبيبه! چې کله به ستاسو رَبّ فرښتو ته وحي ليږله چې زۀ ستاسو سره يم تاسو مسلمانان ثابِت [قدمه] وساتئ۔

(پاره:9، سورۀ الانفال:12)

دلته وګورئ چې فرښتے هم غیر الله دي- الله پاک ېخپله فرښتو ته وفرمائیل: اے فرښتو! ایمان والا ثابت قدم وساتئ! زۀ ستاسو سره یم-

غور اوکړئ چې الله پاک فرښتے راولیږلې، الله پاک که غوښتلے نو بغیر د فرښتو نه یې هم مدد کولے شو، که الله پاک غوښتلے وے نو کافران به هُم پۀ خپلو کورونو کښې اُلټا پراتۀ وو، د بدر میدان ته به هډو راتللے نۀ شو خو الله پاک فرښتے راولیږلې، ولې؟ ځکه چې هغه الله دے، هغه رَبّ دے، هغه د قُدرتونو والا دے، هغه چې څۀ غواړي کوي یې، څوک د هغه نه د پوښتنې کولو جرأت نۀ شي کولے-

بیا غور اوکړئ چې پۀ غزوۀ بدر کښې د مدد کولو د پاره څوک راغلل؟ فرښتے راغلې خو الله پاک فرمائي:

وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدۡرٍ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه الله پۀ بدر کښې ستاسو مدد اوکړو-

(پاره:4، سورۂ آلِ عمران:123)

د مدد د پاره څوک راغلل؟ فرښتے- الله پاک څۀ فرمائي؟ الله پاک مدد اوکړو- معلومه شوه چې د الله پاک مقرب بندګان، د الله پاک پۀ عطا سره، د الله پاک پۀ ورکړے شوي طاقت سره مدد اوکړي نو دا د غیر الله مدد نۀ دے بلکې دا هُم د الله پاک مدد دے کوم چې هغه د خپلو بندګانو پۀ ذریعه باندې کوي-

## د یو سندر غاړي اِیمان تازه کوونکې توبه

یو ځل حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ بیان فرمائیلو، پۀ بیان کښې هغوئي ناڅاپه خاموشه شو او وه یې فرمائیل: چې که 100 اشرفۍ پیش کړے شي نو مخکښې به بیان کووم- پۀ دومره

اورېدو يو، دوه نۀ بلکې 40 کسان د 100، 100 اشرفو سره حاضر شول، هغوئي د يو خوش قِسمته نه اشرفی قبولې کړې او خپل خادم ابو رضا رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه له يې ورکړې او وه يې فرمائيل: فلانکی هديرې ته لاړ شه! هلته به يو بوډا ګس وي کوم چې به عُود (يعنې د موسيقی يوه آله مثلاً رباب) غږوي، هغه له دا اشرفی ورکړه او هغه هم د خپل ځان سره زمونږ خوا له راوله- خادم فوراً پۀ حکم باندې عمل اوکړو، کله چې هغه هديرې ته ورسېدو نو هلته يو بوډا ګس موجود وو، رباب يې غږولو، خادم بوډا ګس ته سلام اوکړو او وه يې وئيل: حُضُور غوثِ پاک رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه ستا د پاره 100 اشرفی رالېږلې دي، دا يې چې څنګ واورېدل نو هٔغه بوډا ګس چغه ووهله او پۀ زمکه باندې راپرېوتو او بے هوشه شو- کله چې پۀ هوش کښې راغلو نو خادم ورته ووئيل: حُضُور غوثِ پاک رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه تاسو ته غواړي- نو هٔغه بوډا ګس فوراً د هغوئي سره روان شو، کله چې دا دواړه حضرات د غوثِ پاک رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه پۀ بارګاه کښې حاضر شو نو هغوئي وفرمائيل: دا بوډا منبر ته راوله! هغه پۀ منبر کښېنولے شو، بيا غوثِ پاک وفرمائيل: خپله واقعه بيان کړه! هٔغه بوډا عرض اوکړو: زۀ پۀ ځوانی کښې ډېر ښه سندر غاړے ووم، اواز مې ډېر خوږ وو، خلقو به ډېر پۀ شوق سره زۀ اورېدم، ژوند مې ډېر ښه تېرېدو، بيا زۀ بوډا شوم، اواز مې د مخکښې پۀ شان پاتې نۀ شو، بس پۀ دې وجه زما پۀ مشهورتيا زوال راغلو، بيا خلقو زما نه مخ واړولو، زۀ به يې نۀ اورېدم، پۀ دې غم کښې ما يوه ورځ سوچ اوکړو چې ژوندي خلق که زما سندره نۀ اوري نو نۀ دې يې اوري، اوس به زۀ مړو ته سندرې وايم، پۀ دې سوچ زۀ هديرې ته لاړم، کله د يو قبر خوا ته، کله د بل قبر خوا ته، داسې زۀ ګرځېدم او بيا مې سندره شروع کړه- پۀ دې وخت کښې زۀ د يو قبر خوا ته ناست ووم چې ناڅاپه قبر کولاؤ شو، د هغې نه يو

ګَس راووتو، هغه ووئيل: اے انسانه! تر څو پورې به مړو ته سندرې وائې---؟ خپل فرياد د الله پاک پهٔ بارګاه کښې پيش کړه، بے شکه هغه حَیّ و قَیُّوم دے- دا منظر چې مې وليدو نو زهٔ بے هوشه شوم، کله چې پهٔ هوش کښې راغلم نو عقل مې پهٔ ځائے شوے وو، نو ما د الله پاک پهٔ بارګاه کښې فرياد پيش کړو- لا مې د رَبِّ کريم پهٔ حُضُور کښې عرض کړے نهٔ وو چې ستاسو خادم راورسېدو او ما ته يـې 100 اشرفۍ راعطا کړې- د دومره وئيلو نه پس هغه بوډا ګَس خپل عُود (يعنې د موسيقۍ آله) ماته کړه او پهٔ رښتوني زړهٔ سره يـې توبه کړه او نيک انسان جوړ شو- (1)

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! وګورئ چې دې بوډا ګَس د غم، درد او پرېشانۍ پهٔ حالت کښې خپل فرياد د چا پهٔ حُضُور کښې اوکړو؟ د الله پاک پهٔ حُضُور کښې---!! او پهٔ اشرفو لېږلو سره د هغوئي مدد چا اوکړو؟ حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ---!! معلومه شوه چې مدد هم د الله پاک دے، هم هغه فرياد اورېدو والا، غم زيلو زړونو ته اطمينان او سکون عطا کولو والا دے خو هغه د خپل مدد د پاره ذريعې مختلفې مقررې کړې دي، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! انبيائے کرام عَلَیۡہِمُ السَّلَام ، اولياؤ الله رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم ټول مشکل کُشا دي، حاجت روا دي، مدد کولو والا دي او د هغوئي مدد پهٔ خپل ذاتي طاقت نهٔ بلکې پهٔ حقيقت کښې هم د الله پاک مدد دے کوم چې د هغوئي پهٔ ذريعه کولے شي-

## غوثيه نـمونځ کوئ---!

خېر! دا خبره د ماسپښين د نمر پهٔ شان بالکل واضحه او صفا ده چې د الله پاک د نبيانو

1 ...بشیر القاری، باب التصوف، نیت صادق کی منفعت اور فساد کی مضرّت، صفحہ:6160 خلاصۃً۔

علَیہِمُ السَّلام ، وليانو رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم او د نېکانو خلقو نه د هغوئي پۀ ژوند کښې، د هغوئي د وفات نه پس هم مدد غوښتل، هغوئي خپل مددګار ګڼل هيڅکله بد نۀ دي بلکې دا ښه عمل د ډېرو مشکلاتو بهترين حل دے- پۀ بَہجَۃُ الۡاَسۡرار شریف کښې دي: حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چا چې پۀ مصيبت کښې ماته فرياد اوکړو، هغه مصيبت لا ړے، چا چې پۀ کومه سخته کښې زما پۀ نوم غږ اوکړو هغه سخته لرې شوه، څوک چې زما پۀ وسيله باندې د الله پاک پۀ بارګاه کښې خپل حاجت وړاندې کړي، هغه حاجت به پوره کېږي، څوک چې دوه رکعته نفل اوکړي او پۀ هر رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس قُل هُوَ اللّٰه شريف (يعني پوره سورۀ اِخلاص) 11، 11 کرته ولولي، د سلام ګرځولو نه پس پۀ سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې پۀ تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود شريف ولولي، بيا د بغداد شريف طرف ته 11 قدمه راشي او زما نوم واخلي او خپل حاجت بيان کړي، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د هغوئي حاجت به پوره کېږي- (1)

| | |
|---|---|
| آپ جیسا پیر ہوتے کیا غَرَض دَر دَر پھروں | آپ سے سب کچھ ملا یا غوثِ اعظم دَستْ گیر (2) |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د حاجت نمونځ کوم چې حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ وښودلو، دې ته صلوة غوثيه [غوثيه نمونځ] وئيلے شي- ډېر مُجَرَّب دے (يعني د داسې نمونځ کولو د ډېرو خلقو تجربه شوې ده او د دې يې فيضان نصيب شوے دے)، کله چې هم څۀ حاجت وي، څۀ سخته راپېښه شي، پرېشاني وي، بيماري، قرض وي نو دا نمونځ اوکړئ! بهتره ده چې د ماښام د نمونځ نه پس يې اوکړئ! د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ وسيلې

---

1...بَہۡجَۃُ الۡاَسۡرَار ، صفحه:197-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:548-

سره دُعا اوکړئ! اِنۡ شَآءَاللهُ الۡکَرِيم! مُراد به مو پوره شي- پۀ دې هم ځان پوهه کړئ! چې د پاکستان نه بغداد شريف کوم اړخ ته دے؟ د پاکستان او هندوستان نه بغداد شريف پۀ مغرِب او شمال [د نمر پريوتو قطبي اړخ] يعني د ***West and North*** تقريباً پۀ مينځ کښې دے-

حُسنِ نیّت ہو خطا پھر کبھی کرتا ہی نہیں | آزمایا ہے،یگانہ ہے دوگانہ تیرا[(1)]

وضاحت: پۀ دې خبره تجربه شوې ده چې پۀ اِخلاص سره غوثيه نمونځ اوکړے شي نو ناکامي نۀ وي بلکې د کوم مقصد د پاره چې اوکړے شي، هغه مقصد پوره کيږي-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيب    صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د يولسمې شريف برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د مدد او د کرم نظر حاصلولو يوه طريقه يولسمه شريف هم ده- اَلۡحَمۡدُلِله! دا د لوئې يولسمې شريف مياشت ده، پۀ دې مياشت کښې هم د يولسمې شريف انتظام اوکړئ! او د راتلونکې هرې مياشتې د پاره د دې عادت جوړ کړئ! اِنۡ شَآءَاللهُ الۡکَرِيم! د دې به مو ډير برکتونه نصيب شي- علمائے کرام فرمائي: مونږ چې څوک هم د يو يولسمې شريف پابند مونډلي دي، تجربه ده چې داسې خوش قِسمته پۀ معاشي او روحاني لحاظ سره هم ډيره ترقي کوي-[(2)]

## ډوب شوې جازونه واپس مېلاؤ شو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! يو سوداګر (***Businessman***) وو، کوم چې به د سمندري

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:20-

2...برکات گیارہویں، صفحه:20 خلاصةً-

جازونو پۀ ذریعه تجارت کولو، یو ځل هغه د سامان نه ډک ډېر سمندري جازونه د تجارت د پاره ولیږل خو څۀ داسې وشو چې هغه ټول جازونه پۀ سمندر کښې ډوب شول- د هغه نوکرانو هغه ته خط ولیکلو او د ټولو حالاتو نه چې یې خبر کړو نو هغه ډېر پۀ اطمینان او یقین سره جوابي خط ولیکلو، د هغه خط مضمون څۀ وو، یو عاشِق هغه د شعرونو پۀ شکل کښې بیان کړے دے، هغه ووئیل:

| | |
|---|---|
| ادا کرتے ہیں شہ کی گیارہویں ہم | ہمیں اس بات کا مُطلق نہیں غم |
| اسی بحرِ کرامت کے کرم سے | ہو بیڑا پار اس بحرِ اَلَم سے |
| تعجب ہے ہمیں لکھتے ہیں یہ کیا | مُزَکّی مال کیوں ہو غرق میرا |
| طفیلِ نُوح، بہرِ عزّت و جاہ | جہاز اپنے نہ ڈوبے ہوں گے واللہ (1) |

خلاصه دا ده چې هغۀ نوکرانو ته ووئیل: کوم جازونه چې ډوب شوي دي، هغه زما نشي کېدے، تاسو جازونه تلاش جاري ساتئ! نو پۀ خط مېلاوېدو سره نوکرانو د جازونو لټون شروع کړل! اخر چې کله غاړې ته راورسېدل نو څۀ ګوري چې ټول جازونه د سامان سره صحیح سلامت موجود دي-

| | |
|---|---|
| بڑی کی گیارہویں اس سال اس نے | مساکینوں کو بخشا مال اس نے |
| بھرا کرتا تھا ہر دم شاہ کا دَم | زباں پر تھا فقط اسمِ اعظم |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د یو یولسمې شریف ډېر برکتونه دي- ځکه د هرې اِسلامي میاشتې پۀ یولسمه شپه پۀ پابندۍ سره د یو یولسمې شریف انتظام کوئ! ډېر

1...برکاتِ گیارہویں، صفحہ:2625 خلاصۃً۔

ګران کار نهٔ دے، د خپل وَس مطابق چې خومره کېدے شي، چې خومره کېدے شي خوراک وغیره پوخ کړئ! پهٔ هغې باندې ختم مبارک اوکړئ او حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه ته یې ایصالِ ثواب کړئ! که ممکن وي نو دا خوراک پهٔ غریبانو باندې تقسیم کړئ! پخپله یې هم خوړلے شئ، پهٔ کور والؤ باندې یې هم خوړلے شئ- چې دا ښه کار اوکړئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د دې به مو ډېر برکتونه نصیب شي- اللّٰه پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب        صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ 12 دِیني کارونو کښې یو دِیني کار: هفته واره رساله مطالعه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي پهٔ ټوله دُنیا کښې د نیکۍ د دعوت پهٔ عام کولو کښې مصروف دے، د نیک نـمونځ ګزاره جوړېدو، د ظاهري او باطني ګناهونو نه د ځان بچ کولو، د اخرت د فِکر مونډلو او د اللّٰه او د رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ پهٔ محبت باندې د زړهٔ ابادولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دیني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ! پهٔ 12 دیني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د دنیا او اخرت بے شمېره خېرونه به درنصیب شي- پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **هفته واره رساله مطالعه** هم ده-

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ **فرمان مبارک دے:** اَلۡعِلۡمُ بِالتَّعَلُّمِ عِلم د زده کولو سره راځي- [1] ❀ د اوسني وخت پهٔ بدو کښې یوه بدي دا هم ده چې خلق د عِلمِ

---

1...بخاری، صفحه:90، حدیث:67-

دِين نه لرې وځي ❀ د دِيني کتابونو د لوستلو شوق د نشت برابر دے ❀ مخکښينو خلقو به دِيني کتابونه ډېر خوښول ❀ شپه او ورځ به يـې کتابونه لوستل ❀ ځکه د هغوئي سره به ديني معلومات هم ډېر وو او ❀ ژوند به يـې هم پاک وو۔

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! ❀ د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي کور کور ته د عِلمِ دِين رڼا رسوي ❀ د دعوتِ اِسلامي د باني شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه خاصيت دا دے چې هغوئي پخپله هم د عِلمِ دِين سره ډېر شوق لري او عاشقانِ رسول ته هم د دِيني کتابونو د لوستلو د شوق ترغيبورکوي ❀ هغوئي د هر خالي په ورځ د يوې ديني رسالې د لوستلو فرمائي ❀ مختصره شان رساله وي ❀ په يو څو منټو کښې لوستلے کيږي۔

تاسو يـې هم لولئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! ډېره فائده به مو کيږي ❀ ديني معلومات به مو زياتيږي ❀ د عِلمِ دِين د زده کولو ثواب به درته مېلاوېږي ❀ د ديني کتاب د لوستلو سره دماغ هم ښه کيږي ❀ نظر تيزيږي ❀ حکمت نصيب کيږي ❀ سوچ پاکيږي او ❀ په ژوند کښې ښکلا راځي ❀ د جديد سائنسي تحقيقاتو مطابق د کتاب لوستلو سره د دماغي بيمارو نه حفاظت کيږي۔

هره هفته په پابندئ سره د **هفته وارې رسالې** د لوستلو نِيّت اوکړئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو۔

## غير مسلمه مسلمان شو

د هندوستان د يو اِسلامي ورور څۀ داسې بيان دے چې زۀ د کفر په تيارو کښې وړَک ووم، يوه ورځ راله چا د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه رساله **احترامِ مسلم** په تحفه کښې راکړه۔ ما چې ولوستله

نو حیران پاتې شوم چې کومو مسلمانانو ته به ما همېشه د نفرت په نظر کتل د هغوئي مذهب اِسلام دومره د امن پېغام ورکوي! د رسالې د لیک اثر لکه د غشي زما په زړهٔ ولګېدو او په زړهٔ کښې مې اسلام کور اوکړو- یوه ورځ ما په بس کښې سفر کولو چې د یو څو ږیرو والؤ او عمامو والا اسلامي ورونړو قافله هم بس ته را اوختله، ما ته پته ولګېده چې دا مسلمانان دي، زما په زړهٔ کښې د اسلام محبت پیدا شوے وو ځکه ورته ما په درنه سترګه کتل، په دې کښې یو اسلامي ورور د نبی مکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې نعت شریف شروع کړو، زما د هغه انداز ډېر خوښ شو، زما په شوق سره اورېدو ته چې یې وکتل نو په هغوئي کښې یو کَس زما سره خبرې شروع کړې- هغه ته پته ولګېده چې زهٔ مسلمان نهٔ یم، هغه په مسکا ډېر په زړهٔ پورې انداز کښې ما ته ووئیل، زهٔ تاسو ته د اسلام قبلولو خواست کووم، زه د احترامِ مسلم رسالې لوستلو سره د مخکښې نه په زړهٔ کښې په اسلام مئین شوے ووم، د هغه د محبت نه ډک انداز مې په زړهٔ باندې نور اثر هم اوکړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما کلمه ووئیله او مسلمان شوم- (1)

| | |
|---|---|
| ترا شکر مولیٰ دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول (2) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کلمه اینډ دُعا (Kalma & Dua) اېپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي ***I.T***

---

1...غافل درزی، صفحه:25-

2...وسائلِ بخشش، صفحه: 648647-

ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کېشن په نوم د کلمه او دُعا (***Kalma & Dua***) جاري کړے دے- د دې ايپلي کېشن په ذريعه ډېر په اسان انداز کښې د ماشومانو تربيت کېدے شي ❁ په دې ايپلي کېشن کښې د ماشومانو د پاره 6 کلمې د آډيو په شکل کښې د حروفو د ادا کولو او د ترجمې سره ❁ د روزانه 16 مختلفې دُعاګانې مثلاً د اوبو څښلو دُعا ❁ د ډوډۍ خوړلو نه مخکښې او وروستو دُعا ❁ د پئيو څښلو دُعا ❁ د اودهٔ کېدو دُعا وغيره د حروفو د ادائيګۍ او ترجمې سره او په مختلفو موضوعاتو باندې سُنت او آداب وغيره شامل دي- په خپل موبائل کښې دا ايپلي کېشن انستال کړئ او فائده ترينه واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي په ورځ به هم په مَدَني چينل د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقريباً 45 :8 بجې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کېږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يا د امیرِ اهلِسُنَّت خليفه دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، په راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د يولسمې شريف برکتونه اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک

چې سوشل مېډيا مثلاً واټس اېپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر کړي! ❁ مکتبة المدينه د لوئي يو يولسمې شريف کال 1444ھ مطابق 11 نومبر کال 2022ء شوے بيان د رسالې په شکل کښې په نوم واه کيا بات ہے غوث اعظم کی چاپ کړې ده- دا رساله د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په **32** روپۍ په بيعه اخستے شئ، پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- [(1)]

## رښتيا وئيل د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه فرامين: **(1)**: رښتيا وئيل نيکي ده او نيکي جَنَّت ته بوتلل کوي- [(2)] **(2)**: د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړے شوه: جنتي عمل کوم يو دے؟ وه يې فرمائي: رښتيا وئيل- [(3)]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! رښتيا وئيل د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هميشه رښتيا

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2...مسلم، کتاب الادب، باب قبح الکذب...الخ، صفحه: 1405، حديث: 2607-

3...مسند امام احمد، جلد: 2، صفحه: 589، حديث:6652-

وئيل ❀ پۀ دې وجه نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خلقو د **صادق او امين** پۀ لقب سره پيژندلو

❀ حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ لا اِيمان نۀ وو راوړے چې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ ليدلو يې ووئيل: وَجۡهُهٗ لَيۡسَ بِوَجۡهِ كَذَّابٍ دا مبارک مخ د دروغو وئيلو والا مخ نۀ شي کيدے، بيا عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اِسلام قبول کړو۔

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دروغ وئيل گناه ده، مونږ له د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت باندې پۀ عمل کولو سره هميشه رښتيا وئيل پکار دي۔ الله پاک دې مونږ ټولو ته هميشه د رښتياؤ وئيلو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پروردگار | سنّتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار |
| جو گناہوں کے مَرَض سے تنگ ہے بیزار ہے | قافِلہ عطّار اُس کے واسطے تیار ہے |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِیۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد